رسالہ نمبر: 115

# وضو اور سائنس




شیخ طریقت، امیرِ اہلسنت، بانیٔ دعوتِ اسلامی، حضرت علّامہ مولانا ابو بلال

**محمد الیاس عطّار قادری رضوی** دامت برکاتہم العالیہ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

## د كتاب لوستلو دُعا

ديني كتاب يا اسلامي سبق لوستلو نه مخكښ دا لاندي دُعا لولئ

اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتي كيږي:

**اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام**

**ترجمه**: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او د حِكمت دروازې برسيره [يعني بيرته] كړې او په مونږه خپل رحمت رانازل كړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج 1 ص40 دار الفكر بيروت)

(اول او آخر كښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طلب غم
مدينه بقيع
ومغفرت

د رسالي نوم: اودس او سائنس

اول ځل: ........................................

تعداد: .....................

ناشِر: مكتبةُ المَدينه، عالمي مدني مركز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه

مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالي د چاپ كولو اجازت نشته

### كتاب اخستونكي توجّه اوكړئ

كه د كتاب په طباعت كښې څه ښكاره خامي وي يا پاڼږې كمې وي يا په بائنډِنګ كښې مخكښې وروسته لګيدلې وي نو مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع اوكړئ.

# اودس او سائنس

شيخِ طريقت اَميرِ اَهلِسُنّت، بانئِ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه دا رِساله "وضو اور سائنس" په اردو ژبه کښې ليکلې ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالے په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړے دے. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي يا کمے، زياتے اومومئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دے چه مجلِس تراجِم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پيشکش:

## مجلسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي


برائے رابطہ:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المَدینہ کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

**Email:** translation@dawateislami.net

# فهرست

## اودس او سائنس


د دُرود شریف فضیلت ........................................................ 1
د اودس د حکمت اوریدلو په وجه اسلام قبلول ................................ 1
د مغربي جرمني سیمینار........................................................ 2
اودس او هائي بلډ پریشر........................................................ 3
اودس او فالج ............................................................... 3
د مسواک قدردان ............................................................. 4
د قوتِ حافظه د پاره............................................................. 5
د مسواک په باره کښې دوه حدیثونه............................................ 5
د خُلې د پخیدو علاج ........................................................... 6
دغاښونو د برش نقصانونه........................................................ 6
آیا تاسو ته د مسواک کولو طریقه درځي؟ ........................................ 7
دمسواک 20مدني ګلونه ........................................................ 7
دَ لاس وِینځلو حکمتونه........................................................ 10
د خُلې د وینځلو حکمتونه ...................................................... 10
په پوزه کښې د اوبو اچولو حکمتونه ............................................ 11
د مخ وینځلو حکمتونه.......................................................... 12
د خنګلو وینځلو حکمتونه...................................................... 14
د مَسْحْ کولو حِکمتونه.......................................................... 15
د لِیوَنو ډاکټر.................................................................. 15
د ښپو وینځلو حکمتونه........................................................ 16
داودس نه پاتې شوې اوبه....................................................... 17

انسان په سپوږمۍ.......................................................17
د د لوبولو نوراني څيز.....................................................19
مُعجِزهٔ شَقُّ الْقَمَر ...........................................................20
صرف الله تعالٰی د پاره.....................................................21
د تصوف لويه مَدَني نسخه...............................................22
سُنَّت د سائنسي تحقيق محتاج نه دي ....................................23
خپلې غاړې ته مې ټينګ کړئ مدني خوږه سرداره ..........................24

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

# اودس او سائنس

دا بيان پوره اولولئ اِنْ شَآءَ الله تعالٰی تاسو ته به د اودس په باره کښې عجيبه عجيبه معلومات حاصل شي.

## د دُرود شريف فضيلت

د **الله** تعالٰی **د خوږ حبيب** صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عظمَت نشان دے: د **الله** تعالٰی د پاره په خپل مينځ کښې محبت کوونکي چې کله د يو بل سره ملاقات اوکړي او مصافحه اوکړي (يعني لاس مِلاؤ کړي) او په نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې درود شريف اولولي نو د هغوئي د جُدا کيدو نه مخکښې مخکښې به د دواړو مخکښني او راروان ګناهونه اوبخښلے شي. (مسند ابي يعلي ج 3 ص 95 حديث 2951)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اودس د حکمت اوريدلو په وجه اسلام قبلول

د يو کس بيان دے: ما د بيلجيئَم يونيورستۍ يوطالب عِلم ته د اسلام دعوت ورکړو. هغه رانه تپوس اوکړو چې په اودس کښې څه څه سائنسي حکمتونه دي؟ ما سره جواب نه وو. ما هغه د يو عالِم خوا ته بوتلو خو هغه ته هم د دې معلومات نه وو. تر دې چې سائنسي معلومات لرونکي يو کس هغه ته څه ډير صفتونه بيان کړل خو د څټ د مَسحې د حکمت نه هغه هم

ناخبره وو. هغه غیر مسلم ځوان لاړو، څه موده پس راغـے او وئیل ئې زمونږ پروفیسر د لیکچر په مینځ کښې اووئیل چې که د ښته په شا او ډډو باندې هره ورځ د اوبو یو څو ځاځکي اولګولے شي نو د ملا د هډوکي او حرام مغز د خرابئ په وجه پیدا کیدونکي مرضونو نه حفاظت حاصلیږي، د دې د اوریدو سره په اودس کښې د ښته د مَسحې حِکمت باندې پوهه شوم لِهٰذا زه مسلمانیدل غواړم او دغسې هغه مسلمان شو.

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مغربي جرمني سیمینار

مغربي مُلکونو کښې د مایوسئ یعني (Depression) مرض په ترقئ کښې دے، دِماغ فیل کیږي، د پاګل خانو تعداد په زیاتیدو دے، د نفسیاتي مرضونو ماهرینو ته د مریضانو قطارونه ولاړ وي. د یو پاکستاني فزیوتهراپسټ وَینا ده: چې په مغربي جرمني کښې یو سیمینار اوشو چې موضوع ئې وه ''د مایوسئ (Depression) علاج د دوایانو نه علاوه په نورو کومو طریقو ممکن دے.'' یو ډاکټر په خپله مقاله کښې دا حیران کوونکي خبره ښکاره کړه. چې ما د ډِپریشن د یو څو مریضانو هره ورځ پینځه ځله مخ وَوینځلو، څه وخت پس د هغوئي بیماري کمه شوه. بیا هُم د داسې مریضانو د بل ګروپ هره ورځ مخ او لاسونه او ښپې ووینځلے نو په مرض کښې ئې ډیر کمے راغے، هم دے ډاکټر د خپلې مقالې په آخره کښې دا اُومنله: چې په مسلمانانو کښې د مایوسئ مرض ډیر کم

دے. ځکه چې هغوئي په ورځ کښې څو څو ځله خپل مخ لاسونه او ښپې وينځي (يعني اودس کوي).

صَــلُّــوْا عَــلَی الْـحَــبِـيْـب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## اودس او هائي بلډ پريشر

د زړونو د يو ماهر ډاکټر د پوخ يقين سره وينا ده: چې د هائي بلډ پريشرمريض باندې دِ اودس اوکړے شي او بيا دِ د هغه بلډ پريشر چيک کړے شي نو ضرور به کم وي. د يو مسلمان ماهرِ نفسيات ډاکټر وينا ده: **د نفسياتي مريضانو غوره علاج اودس دے**. مغربي ماهرين د نفسياتي مريضانو په بدن باندې د اودس په شان څو څو ځله اوبه اچوي:

## اودس او فالج

په اودس کښې چې کوم اندامو نه په ترتيب سره وينځلے شي، دا هم د حکمت نه خالي نه دي. اول په لاسونو اوبه اچولو سره د بدن اعصابي نظام خبر شي او بيا په قلاره قلاره د مخ او دِماغو رګونو طرف ته د دې اثرات رسي. په اودس کښې اول لاس وينځل بيا خله او پوزه کښې اوبه اچول، بيا مخ او نور اندامونه په ترتيب سره وينځل د فالج نه د حفاظت د پاره فائده مند دي.که د مخ وينځلو او د مسح کولو نه شروع اوکړے شي نو بدن په ډيرو بيمارو کښې اخته کيدے شي.

## د مسواک قدردان

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** په اودس کښې ډېر سُنَّتونه دي او هر سُنَّت د حکمت خزانه ده. په هغې کښې يو مِسواک دے، په دې ماشومان هُم پوهيږي چې مسواک کول په اودس کښې سُنَّت دي او د دې سُنَّت د برکتونو به څه وائے! د يو سوداګر بيان دے چې په سوئيزرليند کښې مې د يو نومسلم [يعني نوي مسلمان شوي کس] سره ملاقات اوشو، په تحفه کښې مې مِسواک ورکړو، هغه په خوشحالئ خوشحالئ واخستو او ښکل ئې کړو او سترګو ته ئې اولګوو او يو دم ئې د سترګو نه اوښکې رَوانې شوې، هغه يو رومال د جيب نه را ويستو، چې اوئې سپړدو نو په هغې کښې د مسواک تقريبًا دوه انچه يوه وړوکې ټُکړه پرته وه، هغه اُووئيل چې د مسلمانيدو په وخت کښې مسلمانانو ما ته دا تحفه راکړې وه، ما په ډېر خيال سره استعمالولو، بس دا په ختميدو وو او ما سره ډېر فکر وو خو الله تعالیٰ کرم اوکړو چې تاسو مسواک راکړو. بيا هغه اووئيل: چې د ډيرې مودے نه زه د غاښونو او ورو په تڪليف کښې اخته ووم. تر دې چې ډينټِسټ (يعني د غاښونو ماهر) سره ئې هم علاج نه وو. چې د مسواک استعمال مې شروع کړو نو په لږو ورځو کښې ښه شوم. زه چې بيا ډاکټر ته ورغلم نو هغه حيران شو او تپوس ئې اوکړو چې زما د دوائي سره خو دومره زر ستا مرض نه شو ښه کيدے، سوچ اوکړه څه بله وجه به وي. ما چې سوچ اوکړو نو راياد شو چې زه خو مسلمان شوے يم او دا ټول

برکتونه د مسواک دي. چې ډاکټر ته مې مسواک ورښکاره کړو نو هغه هم حيران پاتې شو.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د قوتِ حافظه د پاره

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** په مسواک کښې بيشميره ديني او دُنياوي فائدے دي. په دې کښې ډير کيمياوي اَجزاء دي چې غاښونه د هر قِسم بيمارو نه ساتي. په حاشية الطحطاوي کښې دي: **مسواک سره قوت حافظه زياتيږي،** د سر درد ورسره ښه کيږي. **[مسواک کولو سره]** د سر رګونو ته آرام رسي، **[مسواک کولو سره]** بلغم ختميږي، نظر ورسره تيزيږي، معده ورسره ښه کيږي او خوراک ورسره هضميږي، عقل ورسره زياتيږي، **[مسواک کولو سره]** د بچو په پيدائش کښې اضافه کيږي، **[مسواک کولو سره]** بوډاوالے زر نه راځي او ملا ورسره مضبوطيږي. (حاشية الطحطاوي علٰي مراقي الفلاح ص69)

## د مسواک په باره کښې دوه حديثونه

(1) کله به چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کور ته ننوتلو نو د هر څه نه مخکښې به ئې مسواک کولو- (صحيح مسلم ص152 حديث253)

(2) کله به چې سرکارِ نامدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوب نه رابيدار شو نو مسواک به ئې کولو. (سنن ابو داؤد ص54 حديث57)

## د خُلې د پخيدو علاج

**د طبيبانو** وينا ده: بعضې وخت د ګرمۍ او د معدے د تيزابيت په وجه خُله پخه شي، د دې مرض نه څه خاص جراثيم په خُله کښې خوريږي، د دې د علاج د پاره په خُله کښې تازه مسواک اُومږئ او د هغې توکانړې [يعني لاړې] لږ وخت دپاره په خُله کښې دننه واړوئ را واړوئ . په دې طريقه ډير مريضان ښه شوي دي.

## دغاښونو د برش نقصانونه

د ماهرينو د تحقيق مطابق: 80 فيصد مرضونه د معدے (او خيټې) او غاښونو دخرابۍ نه پيدا کيږي. عموماً د غاښونو د صفائي خيال نه ساتلو په وجه په ورو کښې قِسماقسم جراثيم پيدا کيږي، بيا په معده کښې د قِسماقسم مرضونو سبب جوړيږي. د غاښونو برش د مسواک نِعمُ البدل نه دے بلکه ماهرين اعتراف کوي چې: ﴿۱﴾ کله چې يو ځل برش استعمال کړے شي نو د هغې په ويخ کښې جراثيم جمع شي، په اوبو وينځولو سره هم هغه جراثيم نه لرې کيږي، بلکه هم هغلته پرورش اخلي ﴿۲﴾ د برش په وجه د غاښونو پاسنے قدرتي ځليدونکے مخ لرې کيږي ﴿۳﴾ د برش په وجه ورئ په قلاره قلاره خپل ځائے پريږدي د هغې په وجه د غاښونو او ورو په مينځ کښې خلا (Gap) پيدا کيږي او بيا په هغې کښې د خوراک ذرّات نخښلي، سخا کيږي او جراثيم پکښې پيدا کيږي. د دې نه د نورو

بیمارو نه علاوه د سترګو قِسما قسم مرضونه هم پیدا کیږي. دې سره نظر هم کمزورے کیږي بلکه کله کله [د دې په وجه] انسان ړوند هم شي.

## آيا تاسو ته د مسواک کولو طريقه درځي؟

کیدے شي چې ستاسو په زړه کښې به داخیال وي چې زه خو د کلونو نه مسواک استعمالووم خو زما غاښونه او خِيتَه دواړه خراب وي زما ساده اسلامي وروره په دې کښې د مسواک نه بلکه ستا خپل قصور دے. زه (سګِ مدينه عُفِيَ عَنْهُ) دے نتيجے ته رسيدلے يم چې کيدے شي په لکونو خلقو کښې به يو نيم کس داسې وي چې د صحيح اصولو مطابق به مسواک استعمالوي مونږه خو زَر زَر په غاښونو پورې مسواک اومږو اودس اوکړو او پاخو يعني دا به اووايو چې مونږ مسواک نه کوو بلکه "رسمِ مسواک" ادا کوو.

## دمسواک 20مدني ګلونه

**د خوږ مصطفي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **دوه حديثو نه:** ۞ دوه رکعاته د مسواک کولو سره ادا کول د بغير مسواک 70 رکعاتونو نه غوره دي.(اَلتّرغِيب وَالتّرهِيب ج 1ص102حديث18) ۞ د مِسواک استعمال ځان د پاره لازم کړئ ځکه چې دا د خُلې د صفائي او د ربّ تعالیٰ د رضا سبب دے. (مُسند اِمام احمد بن حنبل ج2ص438 حديث5869) ۞ حضرت سيِّدُنا ابنِ عبّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې مسواک کښې لس صفتونه دي: خُله صفا کوي، ورئ مضبوطوي، نظر

تیزوي، بلغم ختموي، د خُلي بدبوئي ختموي، د سُنَّت موافِق دے، فرښتے پرې خوشحاليږي، رب پرې راضي کيږي، نيکئ ورسره زياتيږي او مِعده ورسره صحيح کيږي. (جَمعُ الجَوامِع للسُّيوطي ج5ص 249 حديث 14867)

۞ سيدُنا امام شافعي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائيلي دي: څلورو څيزونو سره عقل زياتيږي: د فضول خبرو نه پرهيز، د مسواک استعمال، د نيکانو صحبت، او په خپل علم عمل کول. (حيأة الحيوان للدميري ج2ص 166)

۞ **حِکايت**: حضرت سيدُنا عبدالوهاب شعراني رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ نقل کوي: يو ځل حضرت سيدُنا ابوبکر شبلي بَغدادي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ته د اودس په وخت کښې د مسواک ضرورت شو خو د ډير کوشش کولو باوجود پيدا نه شو نو په يو دينار (يعني د سرو زرو په اشرفئ) ئې مسواک واخستو او استعمال ئې کړو بعضو خلقو ورته اووئيل: دا خو تاسو ډيره خرچه اوکړه! دومره ګران مسواک څوک اخلي؟ نو اوئې فرمائيل: بيشکه دا دنيا د **اللّٰه** تعالیٰ په نِزد د ماشي د وزر همره هم حَيثِيت نه لري، که په ورځ د قيامت **اللّٰه** تعالیٰ زما نه د دې تپوس اوکړي: "چې تا زما د خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت (مسواک) ولې ترک کړے وو؟" ما تا له مال دولت درکړے وو چې د هغې حقيقت زما په نِزد د ماشي د وزر همره هم نه وو، نو آخر داسې حقير دولت دِ د دومره عظيم سُنَّت (يعني د مسواک) په حاصلولو ولې نه وو خرچ کړے؟ نو څه جواب به ورکوم. (مُلخّص ازلواقح الانوار ص38) ۞ د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي اِدارے مَکتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي کتاب **بهارِشريعت** جِلد 1 صفحه 288

کښې صدرُالشریعه بدرُالطَّریقه، حضرت علاّمه مولانا مفتي محمد امجد علي اعظمي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه لیکلي دي، مشایخ کرام فرمائي:څوک چې د مسواک عادت لري، د مرګ په وخت به ورته کَلِمه وئیل نصیب کیږي او څوک چې افیم خوري نو د مرګ په وخت هغه ته **کَلِمه** نه نصیب کیږي.

۞ مسواک د پیلو یا د زیتون یا د نیم وغیره تریخ لرګي پکار دے. ۞ د مسواک پیړوالے د کچې یعني وړوکي ګوتي برابر پکار دے. ۞ مسواک د یو لویشت نه اوګږد نه دے پکار، ګنې شیطان پرې کښیني. ۞ د مسواک سر نَرم پکار دے ځکه که سخت وي نو د غاښونو او ورو په مینځ کښې خَلا (Gap) پیداکوي. ۞ مسواک که تازه وي نو ډیر ښه، که نه وي نو بیا د دې یو سر لږ ساعت په اوبو کښې نرم کړئ. ۞ د مسواک سَر هره ورځ کټ کوئ ځکه چې دا تر هغې فائده مند وي تر څو چې په هغې کښې تریخ والے وي. ۞ د غاښونو په پلن والي مسواک کوئ. ۞ کله هم چې مسواک کوئ نو کم نه کم درې ځله ئې کوئ. ۞ هر ځله ئې وینځئ. ۞ مسواک په ښي لاس څه داسې کوئ چې کچې ګوته ترینه لاندې وي او نورې درې ګوتې پرې د پاسه وي او غَټه ګوته ئې په سر باندې وي. ۞اول د ښي طرف پاس غاښونو بیا د ګڅ طرف پاس غاښونو بیا د ښي طرف لاندې غاښونو بیا د ګڅ طرف لاندې غاښونو کښې مسواک کوئ. ۞په مُوټي کښې مسواک نیولو سره د بواسیرو خطره وي. ۞ مسواک د اودس سُنَّت قَبلِیه دے. البته کله چې خُله کښې بدبوئي پیدا شي نو بیا سُنَّتِ مؤکده دے: (ماخوذازفتاوٰي رضويه ج 1 ص 623)

۞ مسواک چې کله د استعمال قابل پاتې نه شي نو هغه مه غورځوئ. ځکه چې دا د سُنَّت د ادا کولو آله ده. څه ځائے کښې ئې په احتیاط کیږدئ. یا ئې زمکه کښې خخ کړئ یا کانړے وغیره څه وزن ورپورې اوتړئ او سمندر کښې ئې ډوب کړئ (د تفصیلي معلوماتو د پاره د مَکتَبَةُالمَدِینه چاپ شوے کتاب بهارشریعت جِلد 1 صفحه 294 تا 295 اولولئ)

## دَ لاس وِینځلو حکمتونه

(ډاکټران وائي چې) مختلف څیزونو ته د لاس لګولو په وجه په لاسونو پورې مختلف کیمیائي اَجزاء او جراثیم اونخښلي، که ټوله ورځ اُو نه وینځلے شي نو لاسونه د خرمنې دې مرَضونو کښې اخته کیدے شي، مَثَلًا ایګزِیما ﴿۱﴾ د لاسونو ګرمکې ﴿۲﴾ د خرمنې پړسیدل ﴿۳﴾ ایګزیما ﴿٤﴾ د خرمنې سخا پوستکې نیول (یو قسم جراثیم چه په څه څیز پورې د چنړیاسې په شان نخښلي.) ﴿٥﴾ د خرمنې رنګ بدلیدل وغیره. کله چې مونږ لاسونه وینځو نو د ګوتو د سرونو نه شُعاګانې (Rays) اُوځي او یوه داسې حلقه جوړوي چې د هغې په وجه زمونږ اندروني برقي نظام په حرکت کښې راځي او د یو حده پورې برقي رَو [چپه] زمونږه لاسونو ته راغونډیږي، چې د هغې په وجه زمونږه لاسونو کښې ښائست پیدا کیږي او لاسونه د دې څیزونو نه کیدونکې اِنفیکشن نه محفوظه شي۔

## د خُلې د وینځلو حکمتونه

اول لاسونه وَوِینځلے شي د هغې سره جراثیم پاک شي کنې دا د خُلې وینځلو په ذریعه خُلې او بیا خیټے ته د تللو په وجه د ډیرو بیمارو باعث

جوړيدے شي. د هوا په ذريعه بيشميره خطرناک جراثيم، او دغسې د خوراک اَجزاء زمونږ په خُله او غاښونو کښې د توکانړو [يعني لاړو] سره اوښځلې. نو په اَودس کښې د خُلې وينځلو او مسواک سره د خُلې ډيره ښه صفائي کيږي. که خُله پاکه نه کړے شي نو د دې مرضونو د پيدا کيدو خطره وي ﴿۱﴾ ايډز(Aids) ، چې د دې ابتدائي علاماتو کښې د خُلې پخيدل هم شامل دي. د ايډز تر اوسه پورې علاج نه دے معلوم شوے، په دې مرض کښې د بدن مُدافعتي نظام بيکاره شي او بيا پکښې د مرض د مقابله کولو قوت پاتې نه شي او مريض د ډيرې کمزورۍ په وجه مړ شي ﴿۲﴾ د خُلې غاړې چاؤدَل ﴿۳﴾ د خُلې او د شونډو دادقُوبا (Moniliasis) [يعني سخا پاترې نيول] ﴿٤﴾ د خُلې د چنړياسے پشان پوستکي نيولو بيمارياني او خله پخيدل وغيره. او که روژه مو نه وه نو د خُلې وينځلو سره غرغره کول هم سُنَّت دي او په پابندۍ سره غرغره کوونکي د ټانسل (Tonsil) د غټيدو او د مرۍ د ډيرو زياتو مرضونو نه تر دې چې د مرۍ د کينسر نه هم په حفاظت کښې وي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## په پوزه کښې د اوبو اچولو حکمتونه

سکْي [يعني پرپوس، پهيپهړو] ته خه داسې هوا پکار ده چې د جراثيمو، لُوګي، دُوړو او ګرد نه پاکه وي او په هغې کښې 80 فيصده لمدوالے وي د داسې هوا ورکولو د پاره **الله** تعالیٰ مونږ له پوزه را کړې ده، په هوا کښې

لـمدوالي پيدا کولو د پاره پوزه هره ورځ تقريباً د ګيلن څلورمه حصه لـمدوالے پيدا کوي. صفائي او نور سخت کارونه د پوزې ويخته پوره کوي، په پوزه کښې دننه يوه خُردبِيني (Microscopic) جارُو ده. په دې جارو کښې نه ښکاره کيدونکي مالوچ وي، هغه د هوا په ذريعه داخليدونکي جراثيم وژني. هم دا شان د دغه نه ښکاره کيدونکو مالوچو په ذِمه يو بل دِفاعي کار هم دے چې هغې ته په انګريزئ کښې (lysozyme) لَيسوزائم وائي، پوزه د دې په ذريعه سترګې د Infection (يعني جراثيمو) نه په حفاظت کښې ساتي. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ. اودس کوونکے پوزه کښې اوبه اچوي چې د هغې په وجه د بدن د ډيرې غوره آلے پوزې صفائي کيږي او په اوبو کښې دننه کار کوونکے برقي رو [چپے] سره د پوزې دننه د نه ښکاره کيدونکو مالوچو کارکردګئ ته قوت حاصليږي او مسلمانان د اودس په برکت د پوزې د ډيرو سختو بيمارو نه بچ کيږي. دائمي نزله او د پوزې د زخم د مريضانو د پاره د پوزې وينځل (يعني د اوداسه په شان پوزه کښې اوبه اچول) ډير فائده مند دي.

## د مخ وينځلو حکمتونه

نن صبا په هوا کښې د لوګو وغيره ګندګياني زياتيږي، مختلف کيمياوي مادے د خِيري په شکل کښې په مخ او سترګو نخښلي که مخ اونه وينځلے شي نو مخ او سترګې به د څه ډيرو بيمارو سره مخامخ شي. يو يورپين ډاکټر يوه مقاله ليکلې ده چې نوم ئې دے: **سترګې، اوبه، صحّت**

(Eye,Water, Health) په دې مقاله کښې هغه په دې خبره ډېر زور ورکړے دے چې "خپلے سترګې په ورځ کښې څو ځوځله وينځئ که نه وي نو د خطرناکو مرضونو سره به مخامخ شئ." د مخ وينځلو سره په مخ دانے نه راخيژي يا کمې راخيژي. د ښائست او صحِت ماهران په دې خبره متَّفِق دي چې هر قسمه کرِيم (Cream) او لوشن (Lotion) وغيره په مخ باندې داغونه پريږدي، د مخ د ښائست د پاره مخ څو ځو ځله وينځل ضروري دي. د "امريکن کونسل فار بيوټي" يوے خاص ممبرے "بَيچر" څه ښه انکشاف کړے دے وائي: "**مسلمانانو ته د هيڅ قسمه کيمياوي لوشن حاجت نشته، اودس سره د هغوئې مخ وينځلے کيږي او د ډېرو بيمارو نه بچ کيږي.**" د محکمه ماحوليات د ماهرينو وَينا ده: "د مخ الرجي [دانے وغيره] نه د بچ کيدو د پاره مخ بيا بيا وينځل پکاردي." اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! داسې صرف د اودس سره ممکن دي. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! په اودس کښې مخ وينځلو سره د الرجي نه د مخ حفاظت کيږي، د مخ مالش ورسره کيږي، وِينه د مخ طرف ته روانه شي، ځيرے هم لرې شي او د مخ ښائست يو په دوه شي.

## د ړنديدلو نه حفاظت

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د سترګو يو مرض دے چې په هغې کښې د سترګو رطوبتِ اصلِيه يعني اصل لمدوالے کم ياختم شي او په قلاره قلاره آخِر مريض ړوند شي د طِبِّي اصولو مطابق که بانړه وخت په وخت

لامده کړے شي نو د دې خوفناک مرض نه حفاظت حاصلېدے شي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! اودس کوونکے مخ وينځي او د هغې سره د هغه بانړه هم لمديږي. د عاشقانِ رسول کېرې هم په اودس کښې لمديږي د دې هم ډير ښه حکمتونه دي، ډاکټر پروفيسر جارج ايل واني: د مخ وينځلو سره په کيره نخښتي جراثيم اُوبهيږي، د ويخه پوري اوبه رسولو سره د وينښتو جړې مضبوطيږي، د کېرې خلال سره د سپکو خطره هم لرې شي، په کيره کښې د اوبو لوندوالے حصاريدو سره د څټ د رګونو، تهائي رائيډ ګلينډ [غُدود] او د مرئ د مرضونو نه حفاظت کيږي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د څنګلو وينځلو حکمتونه

په څنګلو کښې درې غټ رګونه دي چې د هغې تعلق د زړه ځيګر او دماغو سره وي او د بدن دا حصه عام طور پټه وي که په دې اوبه او هوا اونه لګي نو څه ډير دماغي او اعصابي مرضونه پيدا کيدے شي. **په اودس کښې لاسونه تر څنګلو پورې وينځلو سره زړه، ځيګر او دماغو ته قوت حاصليږي،** او دغسې به اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی بنده د دې مرضونو نه په حفاظت کښې وي. بله دا چې لاسونه تر څنګلو پورې وينځلو سره په سينه کښې جمع شوو رڼړاګانو سره براه راست د انسان تعلق قائم شي او د رڼړا ګانو کنړوالے د يوے بهيدونکي چپے شکل اختياروي، د دې عمل سره د لاسونو د پټو هره پُرزه نوره هم طاقتوره شي.

## د مَسْح کولو حِکمتونه

د سر او څټ په مینځ کښې حَبْلُ الْوَرِید یعني شَه رَګ دے، د هغې تعلق د ملا د هډوکي، حرام مغز او د بدن د هر یو جوړ سره دے. کله چې اودس کوونکے د څټ مسح کوي نو د لاسونو نه برقي رَو (چپه) ووځي او شَه رګ کښې جمع کیږي او د ملا د هډوکي نه د بدن تمام اعصابي نظام کښې خوریږي او دې سره اعصابي نظام ته قوت حاصلیږي.

## د لِیوَنو ډاکټر

د یو کس وَینا ده چې په فرانس کښې مې یو ځائے کښې اودس کولو یو کس راته ډیر په غور کتل، چې کله فارغ شوم نو هغه رانه تپوس اوکړو: چې ته څوک ئې او د کوم وطن ئې؟ ماورته وئیل: پاکستانے مسلمان یم. هغه تپوس اوکړو: په پاکستان کښې څو پاګل خانے [یعني لیونتونه] دي؟ زه په دې عجیبه تپوس حیران شوم خو ورته مې اووئیل: درې څلور به وي. هغه تپوس اوکړو: تا لږ مخکښې څه کول؟ ما اووئیل: اودس. هغه اُووئیل: آیا هره ورځ اودس کوے؟ ما اُووئیل: آو، بلکه پینځه وخته. هغه په حیرانتیا سره اووئیل:زه په Mental Hospital (د لیونو هسپتال) کښې سرجن یم او د لیونتوب په سببونو تحقیق کول زما کار دے. زما دا تحقیق دے چې دماغو نه ټول بدن ته اشارے ځي او اندامونه کار کوي، زمونږ دماغ هر وخت مائع کښې دننه لامبو وهي. په دې وجه منډو ترړو سره دماغو ته څه نقصان نه رسي، که دا څه سخت څیز وے نو مات شوے به

وي. د دِماغو نه يو څو باريک رګونه (Conductor) (رسوونکي) جوړ شوي زمونږ د څټ نه ټول بدن ته ځي که چرې وينښته ډير اُوګږده کړے شي اوخټ وَچ پريښودلے شي نو په دې رګونو يعني (Conductor) کښې د خُشکۍ پيدا کيدو خطره وي او ډير ځله داسې هم اوشي چې د بنده دماغ کار پريږدي او ليونے شي لِهٰذا ما دا سوچ اوکړو چې څټ په ورځ کښې دوه څلور ځله ضرور لـمدول پکار دي. اوس ما وليدل چې د مخ لاس وينځلو سره سره تا په څټ کښې هم څه عمل اوکړو، نو واقعي چې تاسو نه شئ ليوني کيدے. نور دا چې مسح کولو سره د ګرمۍ وهلو او څټ ماتوونکي [ګردن توړ] تبے نه هم حفاظت کيږي.

## د ښپو وينځلو حکمتونه

ښپې د ټولو نه زياتے ګرد کښې ککړيږي. اول نه اول Infection (يعني جراثيم) د ښپو د ګوتو د مينځ نه شروع کيږي په اودس کښې د ښپو وينځلوسره ګرد او جراثيم اُوبهيږي او که کوم پاتې وي نو هغه د ګوتو د خلال سره اوځي. لِهٰذا په اودس کښې د سُنَّت مطابق ښپو وينځلو سره د خوب کمے، د دماغو خشکي، د ويرې او مايوسۍ (Depression) غوندې پريشانه کوونکي مرضونه لرې شي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## داودس نه پاتې شوي اوبه

اعلٰي حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم اودس اوکړو پاتې شوي اوبه ئې په ولاړه اوڅښلې، او په يو حديث کښې راغلي دي: چې په دې اوبو کښې د 70 مرضونو نه شِفا ده. (فتاوٰي رضويه,ج4ص575)

فُقهائےکرام رَحِمَهُمُ الله فرمائي: که په څه لوښي يا لوټه [کوزه] باندې ئې اودس کړے وي نو د هغې پاتې اوبه مخ په قبله په ولاړه څښل مستحب دي. (تَبيِينُ الحقآئق ج 1 ص44)

د اودس نه پاتې شوو اوبو باره کښې د يو مسلمان ډاکټر وَينا ده: ﴿۱﴾ د دې اولنے اثر په مثانه پريوزي، د ورو بولو رکاوټ لرې کيږي، او واړه بول ښه فراخه کيږي. ﴿۲﴾ دې سره ناجائزه شهوت لرې کيږي. ﴿۳﴾ دې سره د ځيګر، معدے او مثانے ګرمي لرې کيږي.

## انسان په سپوږمۍ

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د اودس او سائنس بيان روان دے، نن صبا سائنسي تحقيقاتو طرف ته د بعضو خلقو زياته توجُّه وي، بلکه په معاشره کښې څه داسې کسان هم موجود وي چې د انګريزانو مُحَقِّقِينو او سائنسدانانو نه ډير متاثِره وي، هغوئي ته دا عرض دے چې ډير زيات حقائق داسې دي چې د هغې په تلاش کښې سائنسدانان نن هم سرګردانه دي او زما خوږ خوږ مکـى مَدَنـى مصطفٰي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم هغه د مخکښې نه بيان کړي دي. اوګورئ! د خپلې دعوے مطابق سائنسدان اوس سپوږمۍ ته

ورسیدل خو اعلیٰ حضرت مدني مصطفٰي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې لفظونو لیکلو په وخت (یعني مُحَرَّمُ الحرام ١٤٣٤) تقریباً 1434 کاله مخکښې سفرِ معراج کښې د سپوږمۍ نه هم ډېر زیات بره تشریف وړې وو زما د آقا اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه د عُرس شریف په موقع په دارالعلوم امجدیه عالـمگیر روډ بابُ الْمَدینه کراچۍ کښې منعقد کړے شوي مشاعره کښې د شرکت موقع په لاس راغله، چې په هغې کښې د حدائِقِ بخشش شریف نه دا مصرع منتخب کړے شوي وه.

سر وہی سر جو ترے قدموں پہ قربان گیا

**مفهوم:** سر خو هم هغه سر دے کوم چې ستاسو په قدمونو قربان شو.

د **حضرت صَدرُ الشَّریعه، بَدرُ الطَّرِیقه،** مُصَنِّفِ بهارِشریعت، خلیفه اعلیٰ حضرت، مولانا مفتی محمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه شهزاده ]یعني ځوئ[ مُفَسِّرِ قرآن، حضرت علامه عبدالـمصطفٰي اَزهري رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه په هغه مشاعره کښې چې کوم کلام پیش کړے وو د هغې یو شعرڅه داسې دے.

کہتے ہیں سطح پہ چاند کی انسان گیا عرشِ اعظم سے وَرَاء طیبہ کا سلطان گیا

وائي چې سپوږمۍ ته انسان لاړو د عرش نه هُم بره د مدینے سلطان لاړو

یعني خلق وائي چې اوس انسان سپوږمۍ ته ورسیدو! رښتیا خو دا ده چې سپوږمۍ ډیره نزدے ده، زما خوږ خوږ مدني آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د معراج په شپه سپوږمۍ ډیره وروستو پرېښودې وه، د عرش عظیم نه ئې هم بره تشریف وړې وو.

عرش کی عقل دنگ ہے چرخ میں آسمان ہے جانِ مراد اب کدھر ہائے ترا مکان ہے

د عرش عقل حیران، او سرګردانه نن آسمان دے
اے د زړه مراده چې اوس چرته ستا مکان دے

صَلُّوْا عَلَي الْحَبِيْب! صَلَّي اللهُ تَعَالٰي عَلٰي مُحَمَّد

# د د لوبولو نوراني څيز

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** پاتې شوه سپوږمۍ چې سائنسدان ورته اوس د ختلو دعوې کوي هغه سپوږمۍ خو زما د آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تابعداره ده لکه څنګه چې "دَلَائِلُ النُّبُوَّة" کښې دي، د سلطان دوجهان صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تره حضرت سیدُنا عبّاس بن عبدالمُطَّلِب رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا فرمائي: ما په بارګاهِ رسالت کښې عرض اوکړو: یَارَسُولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ما (ستاسو په مبارک ماشوموالي کښې) په تاسو کښې داسې خبره لیدلې وه چې هغه ستاسو په نبوت دلالت کوي او زما د ایمان راوړلو د اسبابو نه یو سبب دا هم وو. چنانچه ما اولیدل چې تاسو په ځانګو کښې ملاست وئ سپوږمۍ سره به مو خبرې کولې او کوم طرف ته به چې تاسو په ګوته اشاره کوله سپوږمۍ به هم هغه طرف ته تلله. سرکارِ نامدار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: "مابه هغې سره خبرې کولې هغې به ما سره خبرې کولې او زه به هغې قلاړَوَلم او ما به د هغې د پریوتو آواز اوریدلو کله به چې هغه د عرشِ اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ نه لاندې په سجده کښې پریوته." (دلائل النبوة للبیهقي ج2 ص41)

اعلي حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي:

چاند جھک جاتا جدھر انگلی اُٹھاتے مہد میں کیا ہی چلتا تھا اشاروں پر کھلونا نور کا

مفهوم: يعني حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې په مبارک ماشوم والي کښې په ځانګو کښې د سپوږمئ سره لوبې کولې نو چې کوم طرف ته به ئې ورته په ګوته مبارکه اشاره کوله سپوږمئ به هُم هغه طرف ته تله راتله.

يو عاشق داسې وئيلي دي:

یہ سراپا نور تھے وہ تھا کھلونا نور کا کھیلتے تھے چاند سے بچپن میں آقا اسلئے

مفهوم: په ماشوم والي کښې به آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سپوږمئ سره څکه لوبې کولې چې دوئ پخپله هُم نُور دے او هغه د نُور کهلونه [يعني د لوبو نُوراني څيز] دے.

## مُعجِزۂ شَقُّ الْقَمَر

په بخاري شريف کښې دي: د مکے کافرو د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د مُعجِزے ښکاره کولو مطالبه اوکړه نو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کافرو ته سپوږمئ دوه ټکړے کړه. (بخاري ج2 ص579 حديث3868) الله تَبَارَكَ وَتَعَالٰی سيپاره 27 کښې د سورۃُ القمر په اولني او دويم آيت کښې فرمائي:

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ اِقۡتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانۡشَقَّ الۡقَمَرُ ﴿۱﴾
وَاِنۡ يَّرَوۡا اٰيَةً يُّعۡرِضُوۡا وَيَقُوۡلُوۡا سِحۡرٌ مُّسۡتَمِرٌّ ﴿۲﴾

[مَفهُوم] **ترجمۂ کنزُالاِیمان**: د الله په نوم شروع چې ډېر مهربان رحم کوونکے دے. نزدے راغے قیامت او وچودله سپوږمئ او که اووینې دوئي څه نښه نو مخ اړوي او وائي دا خو جادو دے د پخوا نه راروان.

مُفَسِّر شهیر حَکیمُ الاُمَّت حضرت مُفتِي احمد یار خان رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ د دې آیت **وَانۡشَقَّ الۡقَمَرُ** (یعنې: وچودله سپوږمئ) لاندې فرمائي: په دې آیت کښې د حضور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د یوے لوئے مُعجِزے شَقُّ القَمَر (د سپوږمئ دوه ټکړے کیدو) ذِکر دے. (نورالعرفان ص843)

اشارے سے چاند چیر دیا
چُھپے ہوئے خور کو پھیر لیا
گئے ہوئے دن کو عصر کیا
یہ تاب و تواں تمھارے لئے

په اشاره ئې سپوږمئ اوخیرله
بیرته د لمر سترګه ئې راوخیژوله
تیره شوي ورځ ئې مازدیګر کړله بیا
دا دے قوت او طاقت د آقا

**صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد**

## صرف الله تعالٰی د پاره

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د اودس طِبّي فائدو اوریدو سره به تاسو خوشحاله شوي ئې خو زه دا وایم چې ټول فَنِّ طِب په ظَنّیاتو [یعني په ګُمان] مبني دے. او سائنسي تحقیقات هم حَتمي (یعني اټل) نه وي بدلیږي رابدلیږي. خو د **الله** تعالٰی او د هغه د **رسول** صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم احکامات اټل وي هغه نه بدلیږي. مونږ له په سنتو عمل د طِبِّي فائدو دپاره نه بلکه صرف او صرف د رضائے اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ د پاره پکار دے. لِهٰذا د دې د پاره اودس کول

چې بلډ پریشر مې نارمل شي یا تازه دم شم یا د کم خوراک د پاره روژه نیول چې د لوړے فائدے راته حاصلې شي یا د مدینے سفر ځکه کول چې آب و هوا مې بدله شي او د کور او کاروبار د جنجال نه یو څو ورځې دمه شم یا دیني مطالعه ځکه کول چې وخت مې پاس شي، داسې نیتونو سره د عمل کوونکي ثواب نه کیږي که مونږه عمل د **اللّٰه** تعالیٰ د رضا حاصلولو د پاره اوکړو نو ثواب به هم کیږي او ورسره ورسره به د هغې فائدے هم رارسي. لهٰذا د ظاهري او باطني آدابو خیال ساتلو سره مونږ ته پکار دي چې اودس هم د الله تعالیٰ د رضا د پاره کوو.

## د تصوف لویه مَدَني نسخه

حُجّةُ الاسلام امام محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: د اودس کولو نه پس چې کله تاسو د لمانځه طرف مُتوجه شئ نو دا تَصَوُّر اوکړئ چې په کومو ظاهري اندامونو چې د خلقو نظر پریوزي هغه خو په ښکاره پاک شو خو د زړه د پاکئ نه بغیر په بارګاه اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ کښې مُناجات [یعني دُعاګانې] کول د حیا خلاف دي ځکه چې **اللّٰه** تعالیٰ خو د زړونو د حال نه هم خبر دے. بیا فرمائي: ظاهري اودس کوونکي لره دا خبره یاد ساتل پکار دي چې د زړه پاکوالے په توبه کولو، ګناه پریښودلو او په ښو اخلاقو اختیارولو کیږي. څوک چې زړه د ګناهونو د ګندګئ نه نه پاک کوي، صرف ظاهري صفائي او ښائست کافي ګڼړي، د هغه مثال د هغه کس په شان دے چې بادشاه لره ئې دعوت ورکړے وي او خپل کور د

بهر نه ښه ښائسته او رنګ دار کړي خو د کور د دننه طرف د صفائي خيال اونه ساتي، نو په داسې صورت کښې که بادشاه د کور دننه ګندګي اوويني نو خفه به شي که خوشحاله. په دې هر عقلمند پخپله ښه پوهيږي.
(احیاءالعُلوم ج 1 ص185 ملخصًا)

## سُنَّت د سائنسي تحقيق محتاج نه دي

**خوږو خوږو اسلا مي ورونړو!** ياد ساتي! زما د آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت د سائنسي تحقيق محتاج نه دي او زمونږه مقصد د سائنس تابعداري كول نه، بلكه د سُنتو تابعداري كول دي زه به دا اووايم چې د يورپ ماهرين د كلونو محنت او كوشش نه پس كله څه نتيجے ته اورسي نو هغوئي ته په هغې كښې د خوږ مُصطَفیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښكلو ښكلو سُنَّتو د حِكمت رنړاګاني ښكاره شي! په دُنيا كښې كه هر څومره سيل او سياحت اوكړئ، هر څومره عيش او عشرت اوكړئ خو زړه ته به مو حقيقي حوشحالي نصيب نه شي، زړه ته سكون صرف او صرف د اللّٰه تعالیٰ په ياد كښې حاصليږي، زړه ته قرار د آقائے نامدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عشق سره حاصليږي، د دُنيا او آخرت سكون په سائنسي آلاتو ټي وي، وي سي آر او انټرنيټ كښې نشته، د زړه سكون خو د سُنَّتو په اِتّباع كښې دے كه تاسو واقعي د دواړو جهانو كاميابي غواړئ نو لـمونځونه او سُنت مضبوط اونيسئ او د دې د زده كولو د پاره د دعوتِ اسلامي مدني قافلو كښې سفر د ژوند حصه جوړه كړئ، هر اسلامي ورور دِ دا نِيَّت اوكړي چې په ژوند كښ به كم از كم يو ځل په يوه مخه

دولس میاشتې، هرو دولسو میاشتو کښې يوه مياشت او هره مياشت 3 ورځې د سنتو د تربيت د پاره په مدني قافلو کښې سفر کووم. اِنْ شَآءَاللّٰه

ترى سنتوں پہ چل کر مری روح جب نکل کر　　چلے تم گلے لگانا مدنى مدينے والے

چې په سُنَّت ستاسو راون يم روح مې اُوځي

خپلې غاړې ته مې ټينګ کړئ مدني خوږه سرداره

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# دسنتو سپرلي

الحمد لله عزوجل تبلیغ قرآن وسنت عالمگیر غیر سیاسی تحریک دعوت اسلامی په خوشبوداره خوشبوداره مدنی ما حول کښې په کثرت سره سنتو نه یادولې او خودلې شي دهر زیارت په ورځ دماښام لمونځ نه پس په خپل ښار کښې کیدونکې ددعوت اسلامی هفتة واره دسنتو نه ډکې اجتماع کښې دټو لې شپې تیره ولو مدنی التجا ده دعاشقان رسو ل مدنی قافلوکښې دسنتو دتر بیت دپاره سفر او روزانه فکر مدینه ذریعې سره دمدنی انعاماتو رساله ډکول خپل نز دی ذمه دار سره جمع کول خپل معمول جوړ کړی إن شاء الله عزوجل ددی په برکت سره پابند د سنت جوړیدو دګناهونونه دنفرت کیدو او دایمان دحفا ظت کیدو به مو ذهن جوړ شي .هر اسلامی ورور دی دا ذهن جوړ کړی چه ماله دخپل ځا ن او دټول جهان دخلقو داصلاح کوشش کول پکاردی .إن شاء الله عزوجل دخپلې اصلاح دپاره په مدنی انعاماتو عمل کول اودټولې دنیا دخلقو داصلاح کوشش کولو دپاره مدنی قافلو کښې سفر کول إن شاء الله عزوجل۔

فیضانِ مدینہ، محلہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی، باب المدینہ (کراچی)
021-34921389-93 Ext: 2634
Web: www.dawateislami.net / Email: ilmia@dawateislami.net